# بستر کول د دماغي معذور شوي کسانوچه په عامه ځايونو کي پيدا کيږي

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه ، 136 برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. د روغتون نوم او برخه | |

## ولي زه په روغتون کي يم؟

تاسو د يوه پوليس افيسر پواسطه دغه روغتون ته راوړل شوي يي ددي دپاره چه دوي سره تشويش دي چه کيداي شي چه ته دماغي ناروغي ولري اوتاسو بايد د يوه دماغي روغتيايي متخصص په واسطه معاينه شي.

تاسو د 1983 د دماغي روغتيا د لايحه تر 136 برخي لاندي دلته ساتل کيږي ددي دپاره چي تاسو تشخيص شي او وکتل شي چي تاسو علاج ته ضرورت لري.

## څومره موده به زه دلته يم؟

تاسو دلته ( او يا بل ځاي چه تاسي مصؤن وي) د 72 ساعت د پاره ساتل کيږي چه د يوه ډاکټراو يا د يوه قبول شوي د دماغي روغتيا متخصص په واسطه وکتل شي.

يوه قبول شوي دماغي روغتيايي متخصص هغه کس دي چه هغه په ډيره ماهرانه توګه زده کړه ليدلي وي چه هغه سره په دي فيصله کي مرسته وکړي چه ايا راوستل شوي خلک اضافه له دي څخه ضرورت لري چه په روغتون کي پاته شي.

که چيري ډاکتر اوقبول شوي دماغي روغتيائي متخصص موافقه وکړي چه تاسو ضرورت لري چه په روغتون کي پاته شي، يوه دوهم ډاکتر څخه غوښتنه کيږي چه تاسو وګوري او د هغوي د نظرياتو تصديق وکړي.

د دغه مودي په جريان کي تاسو بايد ترک نکړي بغير د هغه نه چه تاسوته ووايي چه تاسو کولاي شي. که چيري تاسو کوشش وکړي چه زه ځم کارکونکي تاسو ته راګرځولي شي، او که چيري تاسو روغتون ترک کړي وي تاسو بيرته راوړل کيږي.

که چيري ډاکترانو اوقبول شوي دماغي روغتيائي متخصص تاسو د 72 ساعتو په موده کي معاينه نه کړي ، تاسو ازاد يي چه دا ځاي ترک کړي . تاسو کولاي شي چه فيصله وکړي چه د يوه دواطلبانه ناروغ غوندي پاته شي. لاکن که چيري تاسو نه غواړي چه دا ځاي ترک کړي ، لطفاً د مخه تاسو د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي .

:

| نیټه | وخت |
| --- | --- |
| | |

## بیا به څه کیږي؟

کله چه ډاکترانو اوقبول شوي دماغي روغتيائي متخصص تاسو وکتلي ، دوي کولاي شي چه تاسو ته ووايي چه تاسو ضرورت لري چه د يوي اوږدي مودي دپاره په روغتون کي پاته شي. دوي تاسو ته وايي چه ولي او د څومره مودي د پاره دغه احتمال وجود لري . تاسو ته بله نشريه رکول کيږي چه تشريح کړي چه نور به څه پيښيږي.

که چيري دوي فيصله وکړي چه تاسو ته د پاته کيدو ضرورت نشته، ځني نور کسان ستا سره خبري کوي چه څرنګه نوره مرسته ورسره وشي .

## ايا زه درخواست (دعوي) کولاي شم؟

يه. حتي که چيري تاسو موافقه و نلري چه تاسو ضرورت لري چه روغتون کي پاته شي، تاسونشي کولاي د هغي فيصلي په مقابل کي چه تاسو تر 136 برخي لاندي په روغتون کي ساتل کيږي درخواست وکړي.

## څه علاج ماته راکول کيږي؟

د روغتون کارکونکي د هغه علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه تاسو ضرورت لري تاسو ته وايي . هغه علاج چه تاسو نه غواړي تاسو حق لري چه هغه ته رد وکړي . يواځي په خاصو شرايطو ، هغه چي تاسو ته به تشريح شي ، هغه علاج چه ته د هغه سره موافقه ونلري تاسو ته ورکول کيږي .

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قريبان وپوهيږي

د دغه نشريه يوه کاپي هغه کس ته ورکول کيږي چه د دماغي روغتيا لايحه ووايي چه دغه ستاسو نژدي قريب دي.

دلته په دماغي روغتيايي لايحي کي د هغو خلکو يو لست دي کوم کسان چي ستاسو (قريبان) خپلوان دي. پرطبعي ډول، هغه شخص چه په لست کي لوړ ليکل شوي هغه ستاسو نژدي قريب ګڼل کيږي. د روغتون کارکونکو کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه درکړي چه په هغه کي تشريح شوي چه ستاسو نژدي قريبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

ستاسو په قضيه کي، مونږ ته ويلي شوي دي چه ستاسو نژدي قريبان دا دي:

| |
| --- |
| |

که چيري تاسو نه غواړي چه دغه سړي يوه کاپي د نشريي تر لاسه کړي، لطفاً خپل نرس او يا د کارکونکو بل غړي ته ووايي.

## ستاسو د نژدي قريبانو بدلول

که چيري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قريبانو په حيث يو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د يو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قريب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه په هغه کي دغه تشريح شوي دي.

## ستاسو ليکونه

هغه ټول ليکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کي ئي تاسو ته ورکول کيږي. تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط وليږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ويلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا ليکونه واخلي. ليکونه دغو خلکو ته د روغتون د کارکونکو له خوا ځنډول کيږي.

## د تمرين کود

دلته د تمرين يوه کود دي چه د روغتون کارکونکو ته د دماغي روغتيا د مقرراتو په باره کي چي د دماغي ناروغي درمان کوي مشوره ورکوي. کارکونکي مجبور دي چه کود تر کتني لاندي ونيسي چه کود څه ويلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصميم نيسي. تاسو کولاي شي غوشتنه وکړي چه د کود يوه کاپي د کتلو د پاره درکړه شي، که چيري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شکايت کولاي شم ؟

که چيري تاسو وغواړي چه د ځني شيانو د سرته رسولو په باره کي چي په روغتون کي ستاسو د مواظبت او علاج په اړوندوي شکايت وکړي ، لطفاً د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي. کيداي شي چه دوي وکولاي شي چه موضوع حل کړي . همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکاياتو د طريقي په باره کي معلومات درکړي، چه تاسو وکولاي شي د هغه نه په استفادي خپل شکايات د هغه له لاري تنظيم کړي چه د داخلي حل په نامه ياديږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلک په باره کي چه هغوي کولاي شي ستاسو شکايت ته رسيدګي وکي خبري وکړي.

که چيري تاسو احساس کړه چه د روغتون د شکاياتو د طريقه نه شي کولاي چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه د يوه مستقل کمسيون له لاري شکايت وکړي. کمسيون نظارت کوي چه د دماغي روغتيا مقرراتو څخه څرنګه استفاده کيږي ،او اطمنان تر لاسه کوي چي دغو مقرراتو څخه په صحيح توګه استفاده شوي او دغو ناروغانو ته د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کي دي په صحيح توګه توجه شوي خ. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه درکړي چه څرنګه کمسيون سره ارتباط پيدا کړي.

## زيادتره مرستي او معلومات

که چيري دلته ځني شيان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کي وي چه تاسو په هغه نه ياست پوه شوي، د کارکونکو يو غړي کوشش کوي چه تاسوسره مرسته وکړي. لطفاً د کارکونکو د يوه غړي پوشتنه وکړي چه ستاسو د پاره تشريح کړي که چيري ځني شيان په دغه نشريه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا تاسي په هغه پوه نشي او يا که چيري تاسو کومه بله پوښتنه لري چه دغه نشريه ورته ځواب نه ورکوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چيري تاسو علاقمندي لري چه د دغي نشريي يوه بله کاپي د يو بل چا دپاره درکړه شي.